**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د چين د لږکیو مسلمانانو پر وړاندې د ظالم چین هېواد جنایتونه او د اسلامي هېوادونو چوپتیا**

(ژباړه)




**خبر:**

روان کال د جنوري پر پنځمه، چيني انګليسي (Global Times ) ورځپاڼې راپور خپور کړ، چې د چين دولت له سوسياليزم سره د اسلام د سمون لپاره يو قانون تصويب کړ. همداراز په دغه راپور کې راغلي چې دولتي چارواکو هوکړه کړې، ترڅو په راتلونکو پنځو کلونو کې اسلام له سوسياليزم سره همغږی کړي او هوکړه يې کړې چې له چيني دود سره به د اسلام د سمون لپاره اړې کړنې ترسره کړي. ورپسې د چين امنيتي ځواکونو د رواني مياشت په پيل کې د ياد هېواد په يون نان ايالت کې د «هوی» ټبر لږکيو مسلمانانو لخوا جوړ شوي درې مسجدونه وتړل.

**تبصره:**

د مستبد چين وروستي حرکتونه د ياد هېواد د مسلمانو اوسېدونکو له ذهنونو څخه د اسلام د له منځه وړلو لپاره وحشيانه کړنې دي، ځکه د ډار او وېرې په ايجادولو سره هغوی مجبوروي، ترڅو اسلامي عقيده پرېږدي او کمونيستي عقېدو ته مخه کړي. دغه رژيم په خپلو ځېنو ايالتونو کې د اسلامي عملونو لکه: روژې نيول، حجاب اغوستل، ږېره پرېښودل او اسلامي ويناوو ته د غوږ نيولو په موخه مسجدونو ته د ۱۸ کالو کم عمره ځوانانو تګ ناقانونه او منعه کړي. همداراز دغه دولت کورنۍ منعه کړي چې پر خپلو اولادونو

باندې اسلامي نوم کېږدي او ديني روژنې ورته برابرې کړي. پر دې سربېره مسلمانې ايغوري ښځې له غيرمسلمانو چينايانو سره، واده کولو ته مجبوروي.

د چين دولت په ۲۰۱٦م کې د اسلام د سرکوب لپاره، «په کورنۍ بدلېدلو» ترسرليک لاندې کمپاين وکړ، چې په ترڅ کې يې چارواکي او چينايي وگړي د څه مودې لپاره په سينکيانگ کې د مسلمانانو په کورنيو کې ځای پرځای شول، ترڅو له «افراطي» اسلام سره د هغوی د تړاو نښانې، لکه: د الکولو د نه څښلو، د جمعې په لمانځه کې د گډون، په رمضان مياشت کې د روژې نيولو او ان د کورونو پر ديوالونو يې د هغو انځورونو له شتون څخه خبر ورکړي، چې اسلامي متون لري. ورپسې د ۲۰۱۷م په دسمبر مياشت کې د سينکيانگ چارواکو تر يو مليونه زيات کسان د يوې اونۍ لپاره د اويغور مسلمانانو په کورونو کې د څارنې لپاره وگمارل. همداراز نورې اسلامي کړنې لکه، حلال خواړه خوړل او ان سلام اچول له افراطي کړنو څخه بولي.

د کمونېست حزب رهبرانو د سينکيانگ په پلازمېنه ارومچي کې د حلالو محصولاتو پر ضد يو حرکت پيل کړ او په ترڅ کې يې مسولو گوندونو ته قسم ورکړل شوی، چې حلالو مجصولاتو پر وړاندې به کلکه مبارزه کوي. هو، له اسلام څخه ددغه رژيم کرکه هغې کچې ته رسېدلې چې مسلمانان يې اړ کړي، ترڅو ان خاورو ته د سپارنې اسلامي مراسم پرېږدي او له چيني مړي سوزونې دود څخه پيروي وکړي چې اوس په سينکيانگ ايالت کې  مخ پر زياتېدو ده.

د ملگرو ملتونو د سازمان د راپور له مخې په سينکيانگ کې تر يو مليون زيات ايغوري مسلمانان په نامعلومه توگه په کمپونو کې ساتل کېږي او هغوی د خپلو عقېدو پرېښودو، الکول څښلو، د خوگ غوښې خوړلو او د کمونيزم حزب وفادارۍ ته يې مجبوروي. پر دې سربېره په ياد مرکز کې زيات شمېر بنديان ځورول کېږي او ان وژل شوي دي. ددې ترڅنگ، کابو ۲مليونه ايغوري مسلمانان د »بيا روزنې» مرکز کې روزل کېږي، چې د سياسي او فرهنگي فشارونو له امله د خپلو عقېدو پرېښودو او د کمونيزم عقېدو حفظ ته مجبورېږي. د فرانسې د خبري راپور له مخې، په يو لړ دولتي ورقو کې چې د «بيا روزنې مرکز» په کسانو پورې تړلې، راغلي، چې د ښو چيني اوسېدونکو د درلودو لپاره بايد لومړی دغه مرکز د اشخاصو او افرادو اصل او نصب، جزړې، اړيکې او عقېدې له منځه يوسي. همداراز د چين دولت هغو ايغوري ماشومانو ته يتيم خونې جوړې کړي، چې کورنۍ يې نيول شوې او يا تبعيد(شړل) شوې. په دغو يتيم خونو کې ماشومان داسې روزل کېږي چې خپل اسلامي هويت هېر کړي او له خپلې اسلامي عقيدې لرې شي. ددغه رژيم موخه داده، ترڅو راتلونکی مسلمان ايغوري نسل په ملحدو کسانو بدل کړي او کمونيزم او چيني دود ته يې وفادار کړي او د پينگ د ليدلوري پر بنسټ په دغې خاوره کې مسلمان اوسېدونکي له منځه يوسي.

سره له دې چې د اسلام پر وړاندې په ډاگه جگړه او د مسلمان ايغور لږکيو د له منځه وړلو لپاره مبارزه روانه ده، خو د اسلامي خاورو حکامو په ډېرې بې شرمۍ سره د دغو ظلمونو پر وړاندې د چوپتيا مهر پر خولو لگولی دی. ان د چين دولت اسلام «فکري ايډيولوژيکه ناروغي او مغزي ويروس» اعلان کړی دی . له بده مرغه بيا هم د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې ټول دغه جنايتونه، د اسلامي خاورو د حکامو د احساساتو را ژوندي کولو لپاره کافي نه دي، ځکه چې د اسلام او مسلمانانو عزت او پت ته هېڅ ارزښت نه ورکوي. دغه رژيمونه او د اسلامي خاورو حکام په سوريه، يمن، افغانستان، پاکستان او نورو ځايونو کې د مسلمانانو د وژلو او جگړې فرصت ته په تمه دي. په ورته وخت کې دوی د اسلام او مسلمانانو لپاره، ډېره کمه اقتصادي او نظامي مرسته هم نه ده کړې. د

بېلګې په توګه: د پاکستان دولت ۱۵زره عسکر د پاکستان-چین اقتصادي دهلیز د امنیت او د هغو چیني اتباعو د امنیت لپاره ګمارلي چې د یاد هېواد په بنسټیزو پروژو کې فعالیت لري؛ خو د اسلام او اسلامي امت د ساتنې او افتخار لپاره یې یو عسکر هم نه دی ګمارلی او لېږلی. له شک پرته ددغې څو ملیارد ډالري پروژې موخه د نړیوال تجارت اسانول دي، چې د آسیا او منځني ختیځ په ګډون له پینګ او تجارتي لارو څخه چې په ځانګړې توګه له سینکیانګ څخه تېرېږي. د اسلام پر وړاندې د ظالم چین د صلیبي جګړې په اړه د اسلامي خارو د حکامو چوپتیا پېرلې ده.

همدارنګه دغه حالت له ډېرو بدمرغیو سره روان دی او د اسلام او مسلمانانو د دفاع لپاره هېڅ اسلامي واقعي رهبر نشته، د چین ملحد دولت له هېڅ خنډ پرته د مسلمانانو ځورونې، کړونې او وژنې ته دوام ورکوي. نو ځکه د اسلامي خاور په ارتش کې له شته کسانو پوښتو ، چې څه مو له دغو خاینو او مزدورو حکامو سره د وفادارۍ لامل شوي، په داسې حال کې چې تاسو او نور اسلامي امت مو د دین پر دښمنانو پلوري؟ څرنګه کولی شی د دغو خاینو حکامو تر حاکمیت لاندې ژوند وکړئ او ناوړه نقشې یې پلې کړی؟ نو ځکه مو د نبوت پر منهج د اسلامي خلافت د بیا تاسیس د جدي اړتیا لپاره خپل ملاتړ اعلان کړئ، چې تاسو د اسلامي امت د دفاع او د اسلام دین د بریا لپاره سره یوځای کوي. لکه څنګه چې الله سبحان وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَـٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً أُولَـٰئِكَ لاَ خَلَـٰقَ لَهُمْ فِي ٱلْءَاخِرَةِ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلاَ يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

[آل عمران: ۷۷]

*ژباړه: څوک چې الهي تړون او خپلې لوړې(د الله په نامه قسمونه) په لږ بیه پلوري، هغوی به په آخرت کې کومه برخه ونه لري او الله سبحانه وتعالی له هغوی سره خبرې نه کوي او په قیامت کې به ورته ونه ګوري او هغوی(له ګناه) نه پاکوي او د هغوی لپاره دردناک عذاب دي.*

**لیکواله: نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې رییسه**

**د ۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ٦مه**

د ۲۰۱۹م، د جنوري ۱۲مه